# بسم الله الرحمن الرحيم

Ketabton.com

The Digital Library



السلام عليكم

دپو هيالي فياض كل مظلوم يار علمي كنفرانس ته

ښه راغلاست





(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکنفرانس موضوع

# د افغانستان جیوپولیتیک موقعیت



(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

افغانستان د آسیا په جنوب کې دحساس جغرافیایي موقعیت درلودونکی دی، چې دا جغرافیائي موقعیت د تاریخ په اوږدو کې ددې باعث شوی دی چې افغانستان د یو ښه جیوپولیتیکي موقف درلودونکی واوسی.

افغانستان کله هم د یو دهلیز په توګه د غرب نه شرق ته د تلو لاروه او کله هم د هند د دروازې حیثیت غوره کړی، چې بیا وروسته په نولسمه پیړۍ کې د یو (بفرستیت) یا حایل په توګه د ابر قدرتونو تر منځ کارول شوی دی چې دا ټول ددې ښکارندویې کوي چې زموږ هیواد د تاریخ په اوږدو کې په مختلفو شکلونو د یو مثبت جیوپولیتیکي موقف لرونکی وو چې له همدې امله د تاریخ په مختلفو پړاوونو کې د ابر قدرتونو د سیالیو میدان ګرځیدلی، او ددې جیوپولیتیکي موقعیت څخه لویو قدرتونو خپل د ستراتیژیکو پلانونو په عملي کولو کې کار اخیستی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# موخې

جیوپولیټیک مفهوم پیژندنه
ګډونوالو ته دافغانستان جیوپولیټیک موقعیت روښانه کول

# مواد او کړنلاره

ددې کنفرانس دموادو ټولونه کتابخانه یې بڼه لري اودمختلفو نویواومعتبرو ټکسټ بوکونو اودانټرنیټ بیلابیلو ویب پاڼوڅخه په کې ګټه اخستل شوې چې ټول ماخذونه داخځلیګونو په پاڼه کې ځای پرځای شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جيوپوليټيک مفهوم

جيو دځمکي په معنی او پوليتيک د سياست څخه اخيستل شوی دی، چې په لغوی مفهوم د ځمکي د سياست معنی افاده کوي.

او په اصطلاح کي هغه علم دی چې د جغرافيايي محيط تاثيرات د هيوادونو پر سياستونو مطالعه کوی، او همدارنګه د سياسي قدرتونو تر منځ د رقابت لاملونه واضح کوي.




جيوپوليتيک هغه علم دی ،چې جغرافيي منابع په محلي،ملي،منطقه ای او نړيواله کچه پيژندنه،ګټه اخستنه او له دې منابعو څخه په نړيوال سياسي رقابت کې د ګټه اخستنې پورته کولو علم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یادوونی وړ ده چې سیاسي جغرافیا د یو هیواد عیني شکل مطالعه کوی یعني په هغه هیوادکې(غرونه،سیندونه،سرحدات ، ترانزیتی لاری ...)تر مطالعی لاندی نیسی اما جیوپولیتیک بیا په خپل وار سره دهمدغه منابعو په نظر کې نیولو سره د یو هیواد سیاسي تګلاره په نړیواله سطحه مشخصوی.

د جیوپولیتیک موقیعتونو په مطالعه کې په مختلفو منطقو کې معمولاهغه منابع او امکانات دلویو قدرتونو توجه راجلبوي چې په زماني او مکاني لحاظ هغه ته تقاضا ډیره وي لکه په اوسنی پیری کې طبعي منابع، حساس تنګې او لویې ترانزیتي لارې هغه موارد دي چې لوی قدرتونه یې دترلاسه کولو لپاره خپلمنځي رقابت کوي.


جیوپولیتیک د یو هیواد جغرافیایي وضعیت سره مستقیمه اړیکه لري او جیوپولیتیک د هیوادونو د سیاستونو منشاء تشکیلوي او د همدې سیاستونو په نظر کې نیولو سره په عمل کې مبارزه کوي او هر هېواد ځان ته ډ یو قوي اود ډاډ وړ جیوپولیتیکی موقیعت پیدا کولو په لټه کې وي، چې په اوسنی پیری کې هر هېواد غواړي چې پر طبعي منابعو، ترانزیتي لارو، لوړو څوکو، آزادو اوبو او داسې نورو د اهمیت وړ مواردو باندی تسلط ولری چې په دی برخه کې بیا لوی او کوچني هیوادونه په خپل منځ کې رقابت تر سره کوی، او جیوپولیتیک ټول هیوادونه د هغوی موقیعت ته په کتو سره د نړیوال رقابت میدان ته ور معرفي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جیوپولیتیک تاریخی بهیر

د جیوپولیتیک اصطلاح دلومړي ځل لپاره په ۱۹۲۲م کي د یو سویډني عالم لخوا چي رودلف کلیین نومیده وکارول شو.
او د شلمي پیړی د شروع څخه وروسته دا علم په اکاډمیکو مرکزونو کي د یو نوي او ځوان علم په توګه تر څیړني لاندي ونیول شو، اما په حقیقت کي دا علم په نړۍ کي د ډیر پخوا څخه موجود وو او لویو امپراطوریو به ددي علم د اساسا تو څخه د خپل قلمرو د پراخوالي لپاره کار اخیست.
په ۱۹ پیړۍ کي دبرتانیي مستعمراتي بریا او د روسي رقابت ددي هېواد سره سیاسي څیړونکي د جیوپولیټیک اهمیت ته متوجه کړل چي دي هیوادونو په هندوستان، افغانستان او مرکزی آسیا کي د خپلو منافعو د ساتلو لپاره په رقابتونو شروع وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان مطلقه موقعیت

د مطلقه موقعیت له مخې افغانستان په لاندې طول البلدونو او عرض البلدونو کې ځای لري.

افغانستان په شمالي نیمه کره کې د عرض البلد کرښو په **۲۹** درجو ، **۲۲** دقیقو او **۵۳** ثانیو او د **۳۸** درجو ، **۲۹** دقیقو او **۳۷** ثانیو او په ختیځه نیمه کره کې د ختیځو طول البلد کرښو په **۶۰** درجو ،**۲۸** دقیقو او **۴۱** ثانیو اود **۷۴** درجو ،**۵۱** دقیقو او **۴۷** ثانیو په منځ کې پروت دی.

- د افغانستان زیات اوږدوالی له شمال ختیځ څخه جنوب لویدیځ لورې ته یاني له یولي دري څخه تر ملک سیاه غر پورې **۱۵۳۰** کیلو متره او زیات پلن والی یې له خم اب څخه تر چګایي غرونو پورې **۹۱۲** کیلومتره دی
- اوس مهال چې افغانستان په وچه کې راګیر هیواد  دی دغې هیواد ته تر ټولو نژدې بحري بندر د کراچۍ بندر دی چې له تورخم څخه **۱۱۲۳** کیلو متره واټن لري . پداسې حال کې چې دهند بحر او افغانستان تر منځ په سیده توګه (نیغ په نیغه) واټن تردې ډیر کم دی یانې له هلمند ولایت څخه تر د کراچۍ شمال غرب لورې پورې **۳۹۰** کیلو متره واټن شتون لري.
- د افغانستان په شمال کې تاجکستان ، ازبکستان او ترکمنستان جمهوریتونه ، لویدیځ ته یې ایران او ختیځ لورې ته یې د چین سنګیانګ ولایت په جنوب او جنوب ختیځ کې له پاکستان سره ګډه پوله لري
- افغانستان په نیمه شمالي کره کې تخمیناً **۶۵۲۲۲۵** کیلومتر مربع پراخوالي په لرلو سره له روسیې پرته نور د ټولو اروپایي هیوادونو څخه پراخ هیواد دی او د اسیایي ملکونو سره د پرتله کیدو له مخې له چین ، هند ، سعودي عربستان ، ایران ، منګولیا ، اندونیزیا ، پاکستان ترکیې او برما څخه وروسته په لسمه درجه کې راځي او د پراخوالي له مخې د نړۍ څلویښتم هیواد دی



د افغانستان پولې او
ډیورنډ کرښه
تاجکستان
شیرعلي خان پوله
۱۸۰۰ کیلومتره
خم آب
ترکمنستان
ریجوي پوله
۵۴۰ کیلومتره
ذوالفقار دره
بلخ
افغانستان
هرات
کابل
لوی ننګرهار
لوی کندهار
فخري پوله
ایران
میکمهان پوله
۴۷۵ کیلومتره
د ملک سیاه غرونه
بلوچستان
ډیورنډ سرحدي کرښه
۲۵۰۰ کیلومتره
پښتونخوا
پاکستان
د جمو کشمیر سره پوله
۱۰۲ کیلومتره
پامیر پوله
د چین سره پوله
۹۶ کیلومتره
Prepared by:Eng.M.Sharif(Jalalzai)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان توپوګرافيکي جوړښت

- توپوګرافيکي جوړښت د ځمکې خارجي شکل ته ويل کيږي چې مختلف موضوعات لکه (لوړې، ژورې، سرحدات، او د اوبو شبکې ) تر مطالعې لاندې نيسي.
- افغانستان د توپوګرافيکي جوړښت له پلوه اکثرا په غرونو پوښل شوی دی او ۴/۵ حصه يې غرونه تشکيلوي، دهندوکش غرونه يې په مرکزي ساحه کې واقع شوي دي چې ۶۰۰ کيلومتره اوږدوالی لري او د يوې ليندۍ په شکل واقع شوي دي، ددې غرونو لوړې څوکې تر ۶۰۰۰ متروا و لمنې يې تر ۳۵۰۰ مترو پورې د بحر د سطحې څخه ارتفاع لري.

د افغانستان طبعي توپوګرافيکي جوړښت د طبعي عوارضو له مخې په دريو برخو ويشل شويدی.

۱- لوړ ساحات: چې د سمندر د سطحې څخه تر ۲۰۰۰ مترو پورې په ارتفاع کې واقع شوي دي.

۲- ټيټ ساحات: چې د سمندر دسطحې څخه د ۵۰۰ نه تر ۳۰۰۰ مترو پورې په ارتفاع کې واقع شوي دي.

۳- هوار ساحات: هغه سيمې چې ډيره کمه ارتفاع لري او معولا هوار دی.

او همدارنګه کم ارتفاع لرونکې سيمې په دريو حوزو ويشل شوي دي( د آمو حوزه، د هلمند حوزه، د ننګرهار حوزه )

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library






(c) ketabton.com: The Digital Library

# دافغانستان په موقعیت دجیوپولیټیکي عواملو موثریت

**جغرافیایي موقعیت اوپه هغه پورې مربوط مشخصات د جیوپولیتیک د ثابتو عواملو څخه ګڼل کیږي او د هېوادونو په جیوپولیتیکي موقعیت باندې د پام وړ تاثیر لری.**

- **افغانستان د جغرافیې موقعیت د آسیا په مرکز کې د یو څلورلارې په توګه**
- **هند بحرته د ځمکې تر ټولو لنډه لاره**
- **د مرکزی آسیا بی سارو منابعو ته د رسیدلو یوه لنډه لار**
- د تاریخ په اوږدو کې د ختیځ او لویدیځ د ارتباطي پل په توګه

د افغانستان دجیوپولیټیک ارزښت په اړه انګلیسي مؤرخ پروفیسور تاین بی داسې وایي ( افغانستان د یو خاص جغرافیایی وضعیت په اساس چې د بل هر عامل څخه د اهمیت وړ دی د آسیا په تاریخ کې لوړ ځای خپل کړی، ځکه چې یو غرنۍ لار د آسیا پر څلور لارو باندی واقع شوی اود یو پخوانۍ بندرګاه حیثیت یې غوره کړی دی. )

د میر غلام محمد په آند افغانستان د آسیا پر څلور لارې واقع شوی او د سیاست او اقتصاد له نظره یې ډیر مهم رول لوبولی، چې د دریو حوزو د وصل مرکز تشکیلوی یعنی د ایران، هند او مرکزی آسیا د یوځای کېدو نقطه ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان جیوپولیتیک او جیوستراتیژیک موقف په سیمه او نړی کې

بی له شکه ویلای شو چې افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د لوړو غرونو او لویو ډاګونو له امله د مرکزی آسیا یو د حساسو او ستراتیژیکو سیمو په کتار کې حسابیږي، چې له همدی امله د سیمی او نړۍ ترډیرو فشارونو لاندی واقع شوی دی.

هیوادونه کولای شي د افغانستان د جیوستراتیژیک موقعیت نه په ګټه اخیستلو خپل اقتصادی مناسبات د مرکزي آسیا نه نیولی تر جنوبی او لویدیځي آسیا پورې تأمین کړی.

د افغانستان جیوپولیتیک او ستراتیژیک موقف تر ډیره بریده ددې هېواد د طبعي او جغرافیایی موقعیت تر تاثیر لاندې دی.ددې هیواد موقعیت د حساسو او ستراتیژیکو لارو پر سره او د هغې نږدیوالي غربي او جنوبي آسیا ته ډېر د اهمیت وړ ګڼل کیږي، دا هېواد د طبعي جوړښت له نظره په یوه ډیره حساسه او غرنۍ سیمه کې واقع شوی چې د اهمیت له پلوه مرکزي آسیا ته د حساس جیوپولیتیکی او ستراتیژیکی موقف لرونکی دی، د ګڼو غروو موجودیت په دې سیمه کې د یرغلګرو لپاره لویه ستونزه بلل کیږي چې د هندوکش غرونه یې په دفاع کې ډیر روّل لوبوي او ددې هېواد د موقف نه یې د تاریخ په اوږدو کې دفاع کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان ستراتيژيک موقعيت


افغانستان له پخوا څخه ډير غوره ستراتيژيک موقعيت لري ځکه چې دهندوکش عظمت لرونکي اودفاعي غرونو، پاروپاميزاد، سپين غر، دسليمان غرونه اوپه ذکرشوو غرونوکي دفاعي درې لکه د اندراب دره، دغوربند، باميانو، وريښموتنګی_ سالنګ اودکونړ درې اوهمدارنګه سيندونه او لګدي يې چې له يوې خوا هيواد سمسوروي اوله بله پلوه ديرغلګرو په وراندي طبعي کلک سنګرونه اومرچلې دي. چې په بېلا بېلومرحلوکې ورڅخه دهمدي موخي لپاره کارا خيستل شوی دی، د بيلګي په توګه دهمدې سيمې ستراتيژيک ارزښت و چې لوی سکندردنړۍ نيوني په موخه په هرات، کندهار، کابل، پروان او کنړ کې له داسې ستونزوسره مخ شو چې په هرځای اوسيمه کې يې د نابرو حملو له کبله دومره تلفات ورکړل چې دکارد سستوالي څخه يې مور په يونان کې نوره تنګه اوپه قهرشوه اوسکندرته يې خط وليکه چې ستاد بخت ستورې په غورځيدودی اوکه د بلې لانجې سره لاس اوګريوان يې؟

په همدې ترتيب سره لدې چې چنګيز د افغانستان ډيرې برخې کنډواله کړې، خوپه باميانواو پروان کې د افغانستان د وګړو له املهٔ دعبرت درس له ځانه سره ګور ته يوړ.

انګليسانو هم له افغانانوسره په دريو جګړوکې ددې سيمې ستراتيژيک اهميت وليدو، لکه چې دافغان انګليس په دوهمه جګړه کې دانګريزانو ډولس زره عسکرو څخه يواځې ډاکتر برايډن وکړای شو چې د خيبر قرارګاه ته ځان ورسوي.

پخواني شوروي اتحاد هم غوښتل چې دافغانستان دنيولو په ترڅ کې د جنګ خوند وڅکي، خوددې هيواد ستراتيژيک موقعيت هغوي ته داسې ماتې ورکړه چې د تل لپاره يې اشتراکي نظام د نړۍ په نقشه کې ورک کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان لپاره د لاجوردو سوداګريزې لارې اقتصادي ارزښت

- د لاجوردو مسير چې افغانستان د ترکمنستان، اذربايجان او ګرجستان له لارې له اروپا سره نښلوي د افغانستان لپاره فوق العاده اقتصادي او تاريخي ارزښت لري.
- دغه لاره به له يوې خوا د وربښمو د لرغوني لارې پخوانى ټرانزيټي مسير يو ځل بيا راژوندى کړي او له بل پلوه به افغانستان د اروپا، منځني ختيځ او سويلي اسيا ترمنځ د ارتباط يوې مهمې کړۍ حيثيت پيدا کړي، چې د ټرانزيټ له درکه به هر کال په ميليونونو ډالر عوايد د افغانستان په برخه شي.
- دغه لار به د افغانستان، ترکمنستان، اذربايجان او ګرجستان لپاره نه يوازې ټرانزيټي لاره وي چې سوداګريزه راکړه ورکړه په کې ترسره کېږي، بلکې د منځنۍ اسيا هېوادونه غواړي چې د دې لارې په اوږدو کې پر نورو لويو زېربنايي پروژو پانګونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






RECCA

# د لاجورد سوداګریزې لارې هوکړه لیک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان لپاره د چابهار بندر اقتصادي ارزښت

- د چابهار بندر د ایران په سیستان او بلوچستان ولایت کې، چې د ایران جنوب ختیځ لوري ته پروت دی، موقعیت لري. دا بندر اوبو ته د افغانستان د مستقیم لاسرسي او د هند لپاره د افغانستان او ایران له لارې د منځنۍ اسیا هېوادونو ته د لاسرسي لپاره خورا ډېر او ستراتیژیک ارزښت لري.
- له چابهار بندر څخه د افغانستان د سرحدي ولایت نیمروز تر مرکز زرنج پورې ۸۸۳ کیلو متره لاره ده. په ۲۰۰۹ زېږدیز کال کې له زرنج تر دلارام پورې سړک د هند د سرحدي سړکونو د ادارې له خوا ورغول شو. دا سړک د افغانستان څلورو مهمو ولایتونو هرات، کندهار، کابل او بلخ ته د رسېدو غوره لاره بلل کېدای شي.
- دغه راز چابهار بندر د مرکزي اسیا هېوادونو لپاره د هند سمندرګي ته د لاسرسي موندلو تر ټولو غوره لاره ده. د دې لپاره به د ایران او افغانستان له لارې د ۷۲۰۰ کیلو مترو په واټن له شماله د جنوب پر لور دهلیز جوړېږي او تر څنګ به یې هندوستان وکولای شي، په پراخه توګه د منځنۍ اسیا پنځو مارکېټونو، روسیې او په نهایت کې اروپا ته لاره پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






RECCA

دچابهار سوداګريزې لارې هوکړه لیک

(c) ketabton.com: The Digital Library







RECCA

# پنځه اړخیزه د اوسپنی کرښه

(c) ketabton.com: The Digital Library




- دافغانستان لپاره دټاپي پروژې ارزښت
- ۴۰۰ میلیونه ډالره کلنی حق العبور
- زرګونه کاري فرصتونه
- د بریښنا فرعي سټیشنونه
- اقتصادي وده
- دحکومت دعوایدو ډیروالی
- دصنایعو پراختیا
- دصنعتي حرارتي بریښنا تولید
- په سیمه کې دافغانستان د جیوپولیټیک موقعیت تثبیت





(c) ketabton.com: The Digital Library

## دافغانستان لپاره دکاسا زر دبریښنا مزو غځولوسیمه ایز ارزښت

د” کاسا۱۰۰۰” پروژه ، له ترکمنستان، قرغزستان او تاجکستان هېوادونو څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته د بریښنا د انرژۍ د لېږد پروژه ده چې پر بنسټ به یې ۱۳۰۰ میګاواټه بریښنا دافغانستان او تاجکستان له لارې، پاکستان ته ولېږدول شي، چې دخپرو شوو راپورونو په اساس به لدې څخه ۳۰۰ میګاواټه بریښنا افغانستان په ارزانه بیه واخلي او پاتې ۱۰۰۰ میګاواټه به پاکستان ته انتقال شي چې دچارواکو په وینا ددې پروژې په عملي کېدو سره به افغانستان ته په کال کې ۴۵ میلیونه ډالره دترانزیټ حق ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# Economic Activity and Land Use

- Food processing plant
- Cotton gin
- Textile plant
- Cement plant
- Electric power plant
- Oilfield
- Gasfield
- Fe Iron deposit
- Cu Copper deposit
- U Uranium deposit
- Oil/Gas potential
- Irrigated cultivation
- Mixed dry farming and grazing
- Forest
- Sparse vegetation

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله:

ددی موضوع له څیړنې نه دا معلومیږي چې:

- افغانستان دآسیا په جنوب کې پروت یو غرنی هیواد دی ، چې تل یې دخپل مهم ستراتیژیک دریځ له امله دپردو نیواکرو درانه ګزارونه په ځان زغملي دي.
- افغانستان دمرکزي آسیا هیوادونو ،دهند نیمه لویې وچې او منځنی ختیځ هیوادونو سره دنښلوونکي پل په توګه خورا ارزښتناکه سیمه ده ، چې په بیلابیلو وختونو کې دوخت پراختیا غوښتونکو یرغلګرو دا خاوره دخپلو سیاسي اوستراتیژیکو اهدافو دلاسته راوړلو په موخه دیوې وسیلې په توګه کارولی دی.

دانګلیسانو او روسانو ترمنځ افغانستان د حایل په توګه ټاکل یو ډېر شوم امر و ، نه یوازې دا چې دې هیواد خپل طبعي سرحدونه دانګلیسانو او روسانو په لویه لوبه کې له لاسه ورکړل ، بلکې له مادي او اقتصادي پلوه یې هم ددې هیواد دپرمختګ ټولې چینې وروچې کړې.

**د افغانستان موجودیت د یوې څلور لارې په حیث د آسیا په مرکز کې.**

**دافغانستان نږدیوالی روسي او چین ته/**

**د افغانستان موقعیت د مرکزي آسیا د بې ساریو منابعو تر څنګ.**

**د افغانستان موقعیت د آسیا په مرکز کې دیو ثابتې ترانزیتي لارې په توګه د مرکزي آسیا د هیوادونو لپاره.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړاندیزونه :

۱- د یو قوي او متمرکز حکومت جوړول او د ولس د علمي سطحې د پراختیا لپاره لازم اقدامات ترسره کول.

۲- د هېواد جیوپولیټیک موقعیت ته په کتو سره د یوې ملي ستراتیژي جوړول او د هغه په چوکاټ کې د ملي منافعو تأمین.

۳- د نړۍ د هېوادونو سره په سیاسي روابطو کې د انډول ساتنه تر څو دهیواد استقلال تر سوال لاندې را نه شي.

۴-په نړیوالو معاهداتو کې د مساوات او برابرۍ د حق مراعاتول تر څو ددې هېواد د جیوپولیټیک موقعیت څخه ناوړه ګټه پورته نه شي او همسایه هېوادونه هم تر تهدید لاندې را نه شي.

۵- د هېواد واکمنان باید د هېواد د سیاسي موقف په نظر کې نیولو سره سیاسي کړښو څخه په سمه توګه ساتنه وشي او ملی منافع تأمین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


1. پژوهش، محمد امین(۱۳۸۸). سیر تاریخی افغانستان از آریانای باستان تا اخیر قرن نزدهم میلادی.مطبعه دولتی کابل.
2. حافظ نیا ، محمد رضا(۱۳۹۰). اصول و مفاهیم جیو پولیتیک.انتشارات: استان تهران.
3. سعیدی، احمد(۱۳۹۱). افغانستان آماجگاه فتنه ها و آسیب ها.مطبعه: مسلکی افغان کابل.
4. طوفان، محمد نبی(۱۳۹۰). اهمیت جیو پولیتیک افغانستان برای کشورهای منطقه و جهان در مسیر تاریخ،انتشارات:مطبعه عسکری
5. عزتی، عزت الله(۱۳۸۲). جیو پولیتیک.نشر: ذره ایران تهران.
6. اسعدي، مرتضی وهوشنگ اعلم (۱۳۷۲). افغانستان (مجموعه مقالات). بنیاد دایره المعارف اسلامی
7. اطاعت، جواد (۱۳۷۲). ژئوپولتیک و سیاست خارجی ایران. نشر: سفیر (تهران).
8. پاپلی یزدی، محمد حسین (۱۳۷۳). افغانستان اقوام - کوچ‌نشینی. مؤسسه چاپ و انتشارات آستان قدس رضوی.
9. روح زنده، جمیله(۱۳۸۴). گذری بر تاریخ روابط سیاسی ایران و افغانستان. تهران: انتشارات صبحدم.
10. شورماچ(نورستانی)، محمد اکبر (۱۳۵۰). جغرافیای عمومی افغانستان. کابل: مؤسسه انتشارات زروی.
11. عظیمی، محمدعظیم (۱۳۸۲). جغرافیای افغانستان. چاپخانه سعید.
12. علی‌آبادی، علیرضا (۱۳۷۳). افغانستان. تهران: مؤسسه چاپ و انتشارات وزارت امور خارجه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوع په اړه پوښتني

؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دژوري هيئت نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له پاملرنې او توجه مویوه نړۍ مننه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**